ولي الله ملکزی

۲۰۲۱/۱۱/۲۰

# د اقلیمي بدلون ناورین

د ساینس او اَسترانومي (علم الفلک) پوهان فکر کوي چي لمر، سپوږمی او ځمکه له نن څخه نژدي څلورنیم ملیارده کاله وړاندي پیدا شویدي. د لمر سترګه له ځمکي څخه ۱۵۰ ملیونه کیلو متره لیري یا لوړه ده او د سپوږمی او ځمکي ترمنځ واټن ۳۸۶ زره کیلومتره دی. د ۱۹۶۹م کال په جولایي کي د آرم سترانګ په نوم یو امریکایي ستور مزلي وړباندي قدم کیښود او د خپل هیواد بیرغ یی وړباندي ورپولو. ما څه موده وړاندي، د امریکا د NPR له راډیو څخه د اوهایو د پوهنتون د دوو پروفیسرانو سره مرکه واوریدله؛ دواړه په دې آند وو چي د لمر سترګي له نیم څخه زیات خپل عمر خوړلی او دوه ملیارده کاله وروسته به رڼا او حرارت له لاسه ورکړي او مازې یو خړ ټیکلی به پاتي شي. دا هغه حقیقت دی چي قران کریم ورته ۱۵۰۰ کاله وړاندې په دې ډول اشاره کړیده: ( إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ - کله چي دا لمر توره تبی شي). باید وویل شي چي د الله تعالی په کتاب او معتبرو حدیثونو کي د کائناتو د تدریجي پیدایښت خبره شوې، ولي ټاکلي نیټه نه ده ښودل شوې چي کله رامنځ ته شویدي؟.

ساینس پوهان انګیري چي دغه ټول کائنات یا عالم وجود، د یوې لویې چاودني Big Bang)) په پایله کي را منځ ته شویدی او قرآن کریم هم په څرګندو ټکو کي داسي فرمایي: ( أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقاً فَفَتَقْنَاهُمَا - آیا دغه نه منونکي خلک «کافران» نه ګوري چي ځمکه او آسمانونه یو له بل سره نښتي او یوه کتله وه چي بیا موږ هغه جلا او بیل کړل؟) تر ۱۹۱۶م کال پوري د ستراونومي ماهرینو ګڼله چي په آسمانونو او کهکشانونو Galaxi)) کي نوره پراختیا او انکشاف نه راځي. خو الله تعالی په خپل کتاب کي په صراحت سره داسي فرمایي ( وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ - موږ آسمان پخپلو لاسونو جوړ کړی او هغه ته پراختیا او وسعت ورکوو). په لیرې فضا کي دغه ستر بدلون د مؤمنانو له نظره د خالق د واکمنی نښه او د هغه د ارادې مظهر دی. ولې هغه څوک چي په دین باور نه لري، دا هرڅه د طبیعت برخه او یو فیزیکي تعامل ګڼي.

د پندوس په شان دا ګرده کُرِّهْ چي ۷۱٪ یي اوبه او ۲۹٪ وچه ده، د ۳۰۰ ملیونو کلونو په ترڅ کي په مزه مزه په پنځو سترو وچو باندې وویشل شوه. په پیل کي هغه پخپل منځ کي نښتي، اوږده او غزیدلي وچه وه چي په لرغوني یوناني ژبې کي ورته پانجیا Pangea)) ویل کیږي چي د غټي ځمکي یا ټولي ځمکي په مانا ده. دا کُرِّهْ، د لمر په مدار کي ۳۶۵ ورځي مزل کوی چي یو کال ورڅخه جوړیږي او په قران کریم کي هم د اَلْأرضْ (ځمکي) کلمه ۳۶۵ ځلي راغلي ده چي د دې آسماني کتاب علمي اعجاز په ګوته کوی. دا ځمکه اوس د ۸/۷ ملیارده انسانانو شریک کور دی؛ د ښځو او نرو د نفوسو شمیر یي تقریبا یو برابر دی. البته یوه وړښه توپیر شته چي د نارینه وو شمیر ۴/۵۰ او د ښځو تعداد ۶/۴۹ دې. د آدم زادو ۳۹٪ د سمندرونو په غاړو، ۴۱٪ د سیندونو او روانو اوبو په خوا کي او پاتي شل سلنه یې په دښتو او هغو سیمو کي اوسیږي چي د اوبو له کمښت سره مخ دي.

سره د دې چي مکه مکرمه د سرې بحیرې څخه یواځې ۸۶ کیلومتره لیرې ده، ولي د تاریخ او سیرت ټول منلي کتابونه یوه خوله دي چي محمد صلي الله علیه وسلم پخپل ژوند کي سمندر او حتی روان سیند هم نه دی لیدلی. خو په قرآن کریم کي ۳۲ کرته د بحر یادونه شویده چي د محمد (ص) د نبوت او د الهي کتاب د سپیڅلتیا او علمي اعجاز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

**ګواهي ورکوي. د تيرې پيړۍ تر نيمايی پورې د جغرافيا او بيالوژي پوهانو ګمان کولو چې د لمر وړانګې / شعاع د سمندر تل ته کوزيږي او هلته څه ناڅه رڼا موجوده ده. ولې د قرآن کريم له مخې خبره داسې نه ده، بلکې هلته تورتم دی ( أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا ۗ - د هغوئ عملونه د ژور سمندر هغو تيارو ته ورته دي چې څپه پرې خوره شوې وي. د هغې د پاسه بله څپه او بيا د هغې د پاسه وريځې وي. دا يو د بل د پاسه تيارې دي، که په دغو تيارو کې څوک خپل لاس بيرون کړي نو ښايي چې هغه به ونه ګوري).**

**قرآن کريم د وچې د فساد سره جوخت، د اقليمي بدلون د ناوړو او وژونکو پايلو اړوند داسې فرمايي: ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ - په وچه او سمندر کې د خلکو د خپلو کړنو له لاسه فساد رامنځ ته شويدی) کله چې موږ په مځکې کې د فساد خبره کوو، يا يې اورو نو نيغ په نيغه ځموږ د ذهن لارې د رشوت، چور، غصب، د وينو تويولو، وژلو، د غټانو له خوا د کمزورو د ځورولو، رټلو او د ټولنيز عدالت د نشتوالي کوڅې ته ور برابر شي چې دا ټول صحيح دي. خو ساينس پوهان، د مځکې فساد په برنۍ فضا کې د کاربن ډاې اکسايډ ((Carbon dioxide د ډيريدو کچه بولي، کومه چې د بې بريده سيلابونو، په ځنګلونو کې د اورونو او د تودوخې د درجې د لوړيدو په بڼه رامنځ ته کيږي. دوه مياشتې وړاندې مو په سايبريا، آمازون، ترکيې، الجزائر او د کليفورنيا په ځنګلونو کې تباه کونکي اورونه وليدل چې د لسګونو انسانانو د مرګ سبب شول. په عين وخت کې مو په جرمني، سوډان او چين کې د هغو ناڅاپي سيلابونو انځورونه هم ترسترګو شول چې له ۴۰۰ څخه زياتو وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړ او په مليارډونو ډالرو تاوان يې هم له ځان سره درلود.**

**کوم هيوادونه چې د سمندرونو په غاړو کې اوسيږو او د خپلو فابريکو او تشنابونو اوبه، پلاستيک او له هغه څخه جوړ توکي د بحر له اوبو سره ګډوي، په پايله کې د دغو هيوادونو د سمندر اوبه تر ۲۵ کيلو مترو پورې تيزابي او له اسيد سره ککړې شويدي. له همدې امله کبان او نور هغه حيوانات چې ځموږ د خوړو او ويټامينو ډيره ارزښتناکه سرچينه ګڼل کيږي، يا مري او يا هم نورو سيمو ته کوچ کوي. تيره اونۍ د سکاټلنډ د ګلاسګو په ښار کې د اقليمي بدلون په اړه د سرټولنې په کنفرانس کې د پيرنګيانو صدراعظم وويل «که چيرې موږ د هوا د تودوخې د درجې د لوړيدو مخه ونه نيسو، نو ليرې نه ده چې د امريکا د ميامي، د مصر د الاسکندريې او د چين د شنګ های په څير د نړۍ ستر ښارونه په سمندرونو کې ډوب شي». له بله پلوه ساينس پوهان په دې باور دي که چيرې د همدې پيړۍ تر پايه د تودوخې درجه څلور درجې نوره لوړه شي، نو په را روانو اتيا کلنو کې به د شمالي او جنوبي قطب کنګليز غرونه او تختې ويلې او د بحرونو د اوبو کچه به يو متر لوړه شي چې د زرګونو غټو او وړو ښارونو نقشې به د مځکې له مخ څخه ورکې شي.**

**د امريکا د مشهور پوهنتون (ييل) د څيړنې له مخې، دا وخت په نړۍ کې ۶۰ زره ډول ډول بوټې او ونې شتون لري او د کاربن ډای اکسايډ هغه برخه چې د انسانانو لخوا رامنځ ته کيږي يو په دريمه برخه يې د همدې بوټو په برکت له منځه ځي. د سکرو سوځول، د مضرو ګازونو کارول، د فابريکو ډيروالی، په غيرې فني توګې د کانونو کيندل، بې وخته بارانونه او په ګرمو سيمو کې د غير منتظره واورو وريدل، د اقليمي بدلون نښې او د ستر بشري ناورين بد زيري دي. دا ټول د دې لامل ګرځي چې خلک د خوراکي حاصلاتو او اوبو په سر خپلمنځي جګړې وکړي، نورو سيمو او هيوادونو ته کډه شي او د جنسي تجاوز او د انسان خرڅونې بازار ګرم شي. په ۲۰۰۳م کال کې په اروپا کې ۳۵ زره تنو د زياتې ګرمۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ او د همدې اقليمي بدلون له وجې به يوه ورځ د مالديف، فيجي او سيشل په څير هيوادونه او په سلګونو آباد ټاپوګان په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي.**

**د ملګرو ملتونو د سازمان او حکومتونو ترڅنګ، موږ ټول د اقليمي بدلون په دې نړيوال بهير کې يو شان مسئوليت لرو، ځکه دا کُرِّهْ ځموږ د ټولو ګډ کور دی او موږ په فردي او ټولنيز ډول د هغې د پاکې ساتنې دنده لرو. کنه نو موږ به د اقليمی بدلون د ناوړو پايلو په رامنځ ته کيدو ملامت او ددې قرآني آيت مصداق وګرځو چې (بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ - دا د خلکو د خپلو لاسونو او عملونو نتيجه ده). ايماندارو! موږ بايد د ځنګلونو د پرې کولو څخه د پرهيز تر اړخه، د بلې دنيا د حورو او غلمانو په خاطر، د بې ګناه انسانانو د ککريو له غوڅولو او د وينو له توئ کولو څخه هم ډډه وکړو. ځکه چې دا ژوند ښکلی دی او دا نړۍ ښکلې ده.**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ